SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونيزه

په اووني کي دوه ځله خپريږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

پنځم کال څلور څلویښتمه ګڼه پرله پسي (۳۳۱) چهارشنبه د۱٤۲۱هـ ق کال د ربيع الاول (۲٦) د۱۳۷۹هـ ش کال د چنګاښ دمياشتې(۸) د ۲۰۰۰ميلادي کال د جون (۲۸)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !،
همدا (عدل) دير نژدي دی
تقوا(پرهيزګاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه!

ايمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنين کلمات مقدس را بي حرمتي بگذاريد.

معاون اداري رياست الوزراء :

ملت و امارت بمثابه پيکر واحد در راه دفاع از ارزشهاي اسلامي قرار دارند

محترم ملا محمد حسن اخند معاون اداري رياست الوزرا قبل از ظهر ديروز در دفتر کار شان با عده از علما نماينده گان ، بزرگان و متنفذين ولايت ميدان وردك ملاقات بعمل آرد.

دفتر مطبوعاتي رياست الوزرا به آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد درين ملاقات ابتدا محترم مولوي عابد، محترم مولوي محمود و محترم مولوي عبدالرحمن به نمايندگي از ديگران صحبت نموده گفتند : مردم مسلمان ودلير ولايت ميدان وردك نه تنها در جهاد مردم افغانستان با جذبه اسلامي سهم گرفته اند بلکه از آغاز تحريك طالبان تا کنون در راه تحقق برنامه هاي امارت اسلامي از هيچگونه فدا کاري دريغ نورزيده اند.

همچنان ايشان مشکلات منطقوي و به خصوص مشکلات ناشي از خشکسالي را به معاون اداري رياست الوزرا مطرح نمودند . بعداً محترم ملا محمد حسن اخند معاون اداري رياست الوزرا ضمن صحبت همه جانبه خطاب به آنها گفتند مامورين امارت اسلامي خدمت صادقانه به مردم را جز انتخارات خود دانسته شب و روز تلاش مي ورزند تا در راه بهبود امور محوله از هيچگونه فداکاري دريغ نه

ص ٤

"شريعت" ته د باوري سرچينو په حواله :

د وسله والو نښتو لامل ګرځيدلی

د مخالفينو په منځ کې د روسي ماهرينو شته والي

ددغو اختلافاتو په ترڅ کې يو شمير پخوانيو قوماندانانو د اسلامي امارت له ځواکونو سره رابطه نيولې

د قوماندانانو او محلي خلکو د نفرت له امله مغوی اوس خوندی سيمي ته بيول شوي

د همدی ماهرينو تر نظارت لاندی د بګرام، دوسرکی، قره باغ او کلکان سيمی د توپچي تر ډزو لاندی نيول شوي

شريعت : د مخالفينو په سيمه کې د روسي ماهرينو شته والي د مغوی ترمنځ د سختو نښتو لامل ګرځيدلی .

شريعت ته د باوري خبري سرچينو په حواله ويل شوی : له کله نه چې د مسعود په بلنه سيمي ته روسي ماهرين راغلي د مسعود د نږدي افرادو او د سيمي د اوسيدونکو له سختي کرکي سره مخامخ شوي دي . کې څه هم مسعود د روسي ماهرينو راوستل له سيمي څخه د اسلامي امارت د ځواکونو د مخنيوي لامل ښودلي خو له دي سره سره بيا هم محلي قوماندانان او قومي مخور د هغه ددي توجيه په خلاف راپورته شوي او په وسله وال اقدام يې لاس پوري کړي چي ژوندي مثال يې د بغلان په ولايت کې د مخالفينو ترمنځ وروستي وسله واله نښته ده چي د زيات شمير وګړو د ضايع کيدو سبب ګرځيدلی .

د روسي ماهرينو له شته والي

٤ مخ

په کندهار کې :

د نشه يي توکو پر خلاف د مبارزې د نړيوالي ورځې په مناسبت غونډه وشوه

د مخدره موادو پر خلاف د مبارزې د نړيوالې ورځې له امله پرون د کندهار په ولايت کې يوه غونډه جوړه شوه او سپورتي لوبې وشوې .

د کندهار له ښار نه د باختر د اطلاعاتي آژانس خبريال خبر راکړ په دې غونډه کې چې د يوان دې پې تي په همکاري او د امارتي چارواکو د بهرنيو ديپلوماتانو او د بهرنيو خيريه موسسو د چارواکو او د کندهار ولايت د يو زيات شمير خلکو په ګډون جوړه شوه لمړی د کندهار ولايت د مخدره موادو په خلاف د مبارزې د کنترول او سمون د اداري کفيل محترم ملا عبدالله اخند د عاليقدر امير

٤ مخ

از اثر خشکسالي :

بند قرغه به يک صحرا سوزان مبدل ګرديده است

شريعت : در سال ۱۳۳۰ هـ ق وزارت زراعت وقت به مقصد تربيه ماهي و مرغ آبي، کشتيراني، ساحه تفريحگاه و ساحه آبياري براي زراعت، بند قرغه کابل را به حجم ۱۲ مليون متر مکعب و ۲٦ متر ارتفاع احداث نمود.

ص ٤

يکتن از قوماندانان مخالفين با مجاهدين اردوي اسلامي يکجا ګرديد

يکتن از قوماندانان مخالفين با افراد مسلح خويش اخيراً در مربوطات ولسوالي امام صاحب ولايت کندز با مجاهدين اردوي اسلامي يکجا ګرديد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد : در تداوم پيوستن قوماندانان مخالفين با اردوي امارت اسلامي اخيراً يکتن از قوماندانان به نام عبد محمد در مربوطات ولسوالي

ص ٤

تيم افغاني در ششمين تورنمنت بين المللي فتبال مقام اول را بدست آورد

سفارت ا.ا.ا مقيم اسلام آباد دارنده امتياز تيم برنده ميباشد

شريعت : از ۱٥ الي ۲٤ جون ۲۰۰۰ م اسلام آباد ميزبان مسابقات ششمين تورنمنت بين المللي فتبال ميان تيم هاي منتخب سفارت خانه هاي خارجي مقيم پاکستان بود.

يك منبع مسؤول وزارت امور

ص ٤

براي هفت موسسه غير حکومتي اجازه فعاليت داده شد

براي هفت موسسه غير حکومتي داخلي بعد از راجستريشن اجازه فعاليت داده شد

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد : در جلسه يي که امروز تحت رياست محترم الحاج محمد موسي هوتك معين اول وزارت پلان تدوير يافت براي هفت موسسه ذيل بعد از ثبت و راجستريشن اجازه فعاليت داده شد.

موسسه انجمن انکشافي اجتماعي براي افغانستان ،، موسسه بازسازي شفق، موسسه باز سازي نعمان، موسسه انجمن ترقي

ص ٤

د هلمند په ولايت کې :

يو اندازه چرس او هيروئين تر لاسه او وسوځول شول

پنځلس کيلو ګرامه چرس او پنځه کيلو ګرامه هيروئين له هغه وروسته چی د هلمند ولايت د موظفينو لخوا د هغو له عاملينو څخه تر لاسه شول پرون د لښکر ګاه په ښار کی وسوزول شول

٤ مخ

براي کارکنان صحي ولايت لوګر :

ديروز سيمينار اموزشي تدوير يافت

سيمينار آموزشي ديروز براي کارکنان صحي ولايت لوګر داير ګرديد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : اين سيمينار که از سوي رياست احيا و انکشاف دهات ولايت لوګر و کمك مالي و تخنيکي اداره يونسف جهت ارتقاي سطح دانش کادر هاي طبي و صحي به منظور پيشبرد پروګرام ترومګريپ و امراض رواني براي مدت

ص ٤

د ماليزيا په پلازمينه کې د اسلامي هيوادونو د بهرنيو چارو د وزيرانو غونډه پرانيستل شوه

پرون د ماليزيا پلازمينه کو لا لمپور کې د ٥٦ اسلامي هيوادونو د بهرنيو چارو د وزيرانو يوه غونډه په دې نيت پيل شوه چې اسلامي هيوادونو ته هغه ګواښونه ور په ګوته کړي چې د نړيوالتوب يا په بل عبارت د نوي او عنصري تکنالوژۍ له درکه ورسره

٤ مخ

اداره يونسف در کابل :

بيش از ۱٥۰ حلقه چاه هاي نيمه عميق را حفر نموده است

اداره يونسف در کابل به تعداد يکصد حلقه چاه نيمه عميق را در ولسوالي ده سبز و بيش از پنجاه حلقه چاه نيمه عميق را در ولايت لوګر حفر نموده است.

اژانس اطلاعاتي باختر خبر

ص ٤

اهالي ولسوالي هاي کوهسان و غوريان هرات-طي اجتماع با شکوهي :

تهديدات روسيه و تعزيرات سازمان ملل متحد را نکوهش نمودند

مردم ولسوالي هاي کوهسان و غوريان ولايت هرات ديروز طي اجتماع وسيعي تهديدات روسيه و تعزيرات سازمان ملل متحد و استکبار جهاني را. شديداً نکوهش نمودند.

خبرنګار آژانس اطلاعاتي باختر از شهر هرات خبر ميدهد اين اجتماع که به اشتراك علماي بندر اسلام قلعه و بزرګان و صد ها تن از اهالي ولسوالي هاي کوهسان و غوريان تدوير يافته بود بعد از آنکه آياتي چند از کلام الله مجيد قرائت ګرديد محترم ملا محمد اکبر رئيس زراعت محترم مفتي لطيف الله حکيمي رئيس اطلاعات و کلتور و محترم ملا خير الله خيرخواه رئيس تنظيمه زون شمالغرب و والي هرات بالترتيب ضمن بيان اهداف و برنامه هاي امارت اسلامي اعمال دشمنان اسلام را که در برابر

ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د نشه يي توکو په کنترول کې له افغانانو سره ولې مرسته نه کيږي

د تيری دوشنبې ورځ د جون د مياشتي شپږويشتمه او د مخدره موادو پر خلاف د مبارزې نړی واله ورځ وه د نړی په ګوټ ګوټ کې د مخدراتو د خطر او ورسره د مبارزې په هکله بيلا بيلې غونډې او پروګرامونه جوړ شوی و خو سره له دې چې ټول نړی وال په يوه خوله همدا نارې سورې وهی چې افغانستان د نشه يي توکو په لومړی درجه مرکز بدل شوی او په دې هم ښه پوهيږي چې افغانان خوبي ځان ته نه

٤ مخ

اتحاديه ژورنالستان عرب :

سفر روزنامه نګاران الجزايري به فلسطين اشغالي را محکوم کرد

اتحاديه ژورنالستان عرب طي بيانيه سفر تعدادي از روزنامه نګاران و خبرنګاران الجزايري به فلسطين اشغالي را به شدت محکوم کرد.

اتحاديه روزنامه نګاران عرب تصريح کرده است که اين سفر نقض آشکار از مقررات اتحاديه

ص ٤

مطبوعات ترکيه از توسعه همکاري روز افزون امريکا و صهيونيست هاخبر داده است

مطبوعات ترکيه از توسعه همکاري هاي ستراتيژيك ايالات متحده امريکا ترکيه و رژيم صهيونيستي براي استفاده آنها از پايګاه اينجيرليك ترکيه خبر داده اند. يکي از روزنامه هاي چاپ استانبول مينويسد طرح استفاده طيارات جنګي رژيم صهيونيستي و اردن از پايګاه اينجيرليك ترکيه بطور جدي مطرح شده است.پايګاه اينجيرليك ترکيه بزرګترين پايګاه فعال ايالات متحده امريکا در ترکيه است.

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱- توزیع او شکایات :٦٢٨٥٩
جاري حساب : ٤٠٣٨٥/٧ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالی پاتي برخه

کری ځکه چی مسلمانان دی او استعمال یی حرام ګنی، بلکی خالص د نیستی او فقر له لاسه یی د خرڅلاو لپاره کری، او دا نیستی هم د روسانو د هغه ناروا یرغل نتیجه ده چی زمونږ ټول اقتصادی جوړښت یی له منځه وړی او اوس په ورانه کنډواله کی ناست یو نړی وال په دی ټولو خبرو ډیر ښه پوهیږی خو دا چی ولی افغانانو سره په دی هکله مرسته نه کوی، سړی ته دا فکر پیدا کوی چی دا ټول نړیوال تبلیغات او هلی ځلی هسی پوچ درواغ او بی ځایه خبری دی ځکه چی که په رښتیا دوی غوښتی وای چی افغانستان له مخدراتو پاک شی نو دا کار ډیر ورته آسانه دی او هغه اندازه لګښت چی زمونږ د کرنیز پرمختګ لپاره په کار دی، دوی ته ډیر کم دی. دوه کاله مخکې د ملګرو ملتونو د مخدراتو د کنټرول یو مسؤول «الارچی» په کندهار کی د نشه یی توکو د مخنیوی لپاره د متبادلو پروژو د جوړولو اعلان وکړ او زیاته یی کړه چی که په کندهار کی یی پایلی مثبتی وی نو دا پروګرام به نورو ښارونوته هم وغځول شی، خو نه پوهیږو د چا په اشارو نوموړی پروګرام په هماغه ځای ودرول شو له بلی خوا په عملی ډول د اسلامی امارت د چارواکو له خوا وخت په وخت په ننګرهار، کندهار، هلمند، پکتیا او نورو ولایاتو کی د بهرنیو خبریالانو په وړاندی یوه زیاته اندازه د کوکنارو کروندی، د هیروئینو کارخانی او تیار شوی افیم له منځه یوړل شول، خو بیا هم هیڅوک مرستی ته راوړاندی نه شول، نو له همدی ځایه په ډاګه څرګندیږی چی دوی اصلاً د افغانستان سره ستونزی لری، او نه غواړی چی په افغانستان کی یو کس هم ښه ژوند ولری او بایی هیواد ودان شیٔ مغرض هیوادونه ټول په دی کی دی چی د مجاهدو افغانانو پر خلاف دغه تبلیغاتی وسله تل د دوی په لاس کی وی او له افغانستان څخه د نړی والو د متنفر کولو لپاره یی په کارواچوی نو دا چی ملګرو ملتونو په دی هکله ډیر غلط او مخالف دریځ غوره کړی دی د اسلامی امارت چارواکو هم پټیلی ده په دی باره کی ښه پراخ تبلیغات وکړی، بیلوبیلو هیوادونو ته دا ډاډ ورکړی چی په اساسی ډول د مخدراتو له منځه وړل غواړی او په دی اړه یی پاخه شواهد، اسناد او تفاًصیل هم خپاره کړی او دا یی هم په ګوته کړی چی اصلی ستونزه د هیواد ویجاړتیا او د خلکو بی اندازی فقر او نیستی ده او دا هم امکان نه لری چی د هیواد دیرش ملیونه وګړی ټول د لوږی د لاسه مرګ سره مخامخ کړای شي نو اسلامی امارت به په دی هکله خپل ټول وس او توان په کار واچوی تر څو راپیښو اقتصادی ستونزو سره مقابله وکړی او د خپل ځوریدلی ملت د ژغورلو لپاره یو مناسب حل راوباسی او هیڅکله هم په دی فکر نه دي چی د نشه یی توکو کروندی به زمونږ اقتصادی مشکلات حل او ولس ته به نیکمرغی راوړی . لنده دا چی اسلامی امارت په هر ډول شرایطو کی د مخدراتو پر خلاف خپله مبارزه جاری ساتی او ګوری به چی نړی وال بیا هم څرنګه قضاوت کوی .

ژورنالیستکي بحث :

ارتباط یا مفاهمه

غلام سخي «اثمر»

د ډله ییزو وسایلو دودنو او اغیزو په هکله مو ډیر شیان لوستی خو دلته په یو عام چوکاټ کی ارتباط یا مفاهمي ته لنډه کتنه کوو تر څو له یوی خوا د ضرورت په صورت کی هغو ته چی په عملی توګه د ارتباطاتو سره د ډله ییزو وسایلو د لاری اړیکي لری ګټوری وی او له بلی خوا ته د ارتباطاتو اصلی کړی وپیژندله شی د انسان ورځنی فعالیتونه ټول په یو نه یو ډول ارتباط او مفاهمه ده او په یوویشتمه پیړی کی چی د کمپیوتر، ستلایت او انترنټ په واسطه د ارتباطاتو امکان موجود دی ارتباط او مفاهمه زښت زیات اهمیت لری ځکه زیات سرعت (تیزوالی او ګړندیتوب) د ډله ییزو وسایلو اوسنی اساسی عنصر ګرځیدلی دی.

که دغه سرعت ته توجه ونشی د دری ژبی د یو متل په مطابق چی وایی (خینه بعد از عید را بر دیوار بمال) نو ډله ییز وسایل د اوسنی پیړی د ایجاباتو سره ځان نشی عیارولی.

په سر کی به وګورو چی ارتباط او مفاهمه څه ته وایی :

کله چی غواړو ارتباط او مفاهمه تامین کړو نو منطقی هدف مو دا دی چی هڅه کوو د ټولنی په منځ کی عمومیت پیدا کړو یعنی اکثر او یا کل ته نژدی خلک ذهناً داسی آماده کړو چی یو ډول او یا مشابه تفکر پیدا کړی دا ویل نه غواړم چی په ټولو افکارو او عقایدو کی یو شانتوب را منځ ته شی بلکی دا ویل غواړم چی د ځینو موضوعاتو په هکله لنډه دا چی ارتباط او مفاهمه لږ تر لږه دریو لاندنیو عناصرو ته احتیاج لری او ویلی شو چی اساسی عناصر هم دی : منبع، پیغام، چاته رسول غواړو

دا عناصر وپیژندل شوی او بحث ته ضرورت نلری خو باید ژورنالست او خبر لوڅی ته ښکاره وی چی منبع څه ډول منبع ده، د پیغام اصلی هدف څه شی دی او په څه ډول هغو سره چی ارتباط رامنځته کوو ورته دغه معلومات ورسوو، دلته ده چی ژورنالست د سیاست سره سرو کار پیدا کوی او سوچ کوی چی څه ډول کار وکړی تر څو یې هلی ځلی ګټوری وی ددی استدلال منطقی نتیجه ګیری دا ده چی ژورنالست د زعامت او خپلو خلکو په وړاندی زیات دروند مسوولیت په غاړه لری.

د ژورنالست کار له تفکر او معقول تشویش سره کلک او ارګانیک تړاو لری ژور تفکر پدی کوی چی د خلکو د مغزونو او اذهانو سره مخامخ دی او غواړی دی ژور تفکر ته څه ډول قالب جوړ کړی چی سالم وی او د هیواد لوړو ګټو سره سمون ولری، تشویش پدی کوی چی ژورنالست د زعامت او خلکو له عکس العمل او برداشت سره مخامخ دی او ژورنالستیکی کار یی قضاوت ته وړاندی شوی دی ډیر امکان لری چی یو نابلده او کم استعداده ژورنالست د کاغذ مخونه ډک کړی خو په پای کی یی کار اغیزمن نه وی او ښه نتیجه ورنکړی او بر عکس یو پوه او با استعداده ژورنالست په لږو څو دقیقو او پخو کلماتو کولای شی یو ښه ژورنالستکی کار وړاندی کړی یوه نوی تیوری دا ده چی : « ژورنالست د راتلونکی تاریخ پانی ډکوی » ددی تیوری پلویان داسی استدلال کوی چی د مثال په توګه د بلی پیړی او یا د پنځو سو راتلونکو کلونو مورخ په لومړی سر کی د ډله ایزو وسایلو آرشیفونو ته مراجعه کوی او د هغو څخه معلومات راغونډوی، د ژورنالست دغه کار نه یوازی ډیر اهمیت لری بلکه د درانده مسوولیت څخه ډک کار هم دی.

په همدی وجه د کلکسیونونو جوړول او ساتل د ډله ایزو وسایلو د مسوولینو یو با اهمیته کار دی کیدای شی د ورځپاڼو مجلو راډیو او یا داسی نورو ډله ییزو وسایلو کلکسیونونه او ارشیف موجودوی خو دغه ارشیف ښایی ورغ تر ورځی ښه‌ای شی د مثال په توګه که د یوی ورځپاڼې او یا راډیو ان د لومړی میاشتی کلکسیون ته ضرورت وی هغه باید تر لاسه شی.

د ارتباطاتو او مفاهمی نور دری مهم عناصر دا دی : لیږونکی، پیغام، او د پیغام اخیستونکی

دغه عناصر د پورتنیو عناصرو سره پوره شباهت لری خو دلته د ژورنالیزم پوهان پر لومړی عنصر باندی چی لیږدونکی دی زیات تاکید کوی لیږدونکی باید نه یوازی با تجربه او پوه ژورنالست وی بلکه په روحی او فزیکی لحاظ هم باید سلامتیا ولری، ژورنالیزم داسی پراخ او له ابتکاره ډک میدان دی چی په اساسی توګه عملی او تجربی کار ته اهمیت ورکوی او دا ځکه چی د کار په ډګر کی له ژورنالست څخه پدی او یا په هغه ژانر کی مطلب غوښتل کیږی او که دی پدی کار کی پاتی راشی نو راتلونکی یی د پوښتنی سره مخامخ کیږی دا امکان وجود لری چی په لومړیو اوونیو کی ځوان ژورنالست مشکلات ولری خو مسوول مدیر او د لیکنی غړی هغه سره مرسته کوی تر څو استعداد یی وغوړیږی.

مسوولین په لومړی، دوهمه یا دریمه ورځ هغه ته وظیفه ورکوی چی کوم خبر، ګزارش، مقاله، سرمقاله، فیلتون(انتقادی ژانر دی) ... او یا بله کومه موضوع د خپرولو لپاره اماده کړی، ژورنالست پدغسی حالت کی له خپل مغز، قلم، کاغذ، غږ... او یا بل فزیکی

ص ۳

له ملی عنعنی څخه ناوړه ګټه اخیستل

غفور احمد غزنوي

لویه جرګه! ؟ د چا له خوا ؟، د څه لپاره ؟ څه وخت، په کوم ځای کی ؟ څه ډول ... ؟ محترمو لوستونکو دا هغه پوښتنی دی چی ستاسو او هر با احساسه افغان سره پیدا کیږی، دا ځکه چی پدی ورځو کی له راډیو ګانو او مطبوعاتو څخه د لویی جرګی اوازی اوریدل کیږی، او له یو شمیر بی هویته اشخاصو څخه د ځانی ګټو او اغراضو پخاطر پدی لړ کی بی مسؤولیته او له واقعیتونو څخه لری خبری تر غوږ وکیږی. راځی چی ددغی ملی عنعنی حقوقی او قانونی اړخونه تر څیړنی لاندی ونیسو او دا جوته کړو چی نن ورځ دغه پدیده څه ډول د ځانی ګټو او نفسی خواهشاتو د لاسته راوړنی پخاطر کارول کیږی دا یو څرګند حقیقت دی چی ټولی هغه عنعنی، عرفونه، رواجونه او عادات چی د اسلامی حقوقی سیستم سره په تضاد او تقابل کی نوی واقع شوی په تیره بیا چی اصلاحی اړخونه او پایلی ولری نه یوازې دا چی د اسلامی حقوقو او نصوصو لخوا رد شوی ندی بلکي تایید او د اعتبار وړ ګرځیدلی چی ډیره پر ځای او مناسبه بیلګه یی همداد جرګی او شورا مسئله ده لوی او حکیم ذات پاک پروردګار په خپل بلیغ کلام کی د هڅونی (تشویق) او لارښوونی په رمز خپل مومن بندګان داسی ستایی : و امرهم شورا ... یعنی ټول اوامر او کارونه د دوی د شورا او غونډو له لاری د دوی تر منځ تر سره کیږی پدی اساس ویلی شو جرګه، غونډه او شورا کومه نوی اصطلاح او پدیده نده بلکی د افغانانو د تاریخ له پیل څخه یعنی تقریباً دوه نیم زره کاله د مخه د آرین توکمو ګرو تر منځ چی د امو سیند پر غاړو او د بخدی (اوسنی بلخ) په ښار کی میشته وو هم دوه ډوله جرګی د سبها او سمیتی په نامه په ټاکلو وختونو کی د ستونزمنو مسئلو د غو ځولو لپاره جوړیدی لومړی د کلیو او بانډو په سطحه او دوهمه د مختلفو قومونو تر منځ په لوړه کچه چی په هغی کی به برخلیک او لوی مشر ټاکل کیدو، همدارنګه د میرویس نیکه، احمد شاه بابا، امیر شیر علی... دوختونو جرګی د بیلګی په توګه یادولی شو. خو په تاریخ کی داسی ندی اوریدل شوی چی دا جرګی دی له هیواد څخه بهر یا د بهرنیانو په مرستو او اشارو تر سره شوی وی، ټولی مسئلی لکه د مشرانو انتخاب او انتصاب، د برخلیک ټاکل د شخړو حل او هغو ته ورته قضیی له همدی لاری تر سره کیدلی خو د افغانانو په ابتکار او د افغانانو په هیواد کی نه بی۹ بهر کی او د بهرنیانو په لمسون او د ځانی ګټو پخاطر په هر حال د یا دونی وړ ده چی د اسلامی عقایدو په بحث کی په صراحت سره ویل شوی چی د مسلمانانو لپاره د خلیفه او امیر ټاکل او درول واجب او لازم دی تر څو د اسلام احکام او قوانین جاری او نفاذ کړی البته د ټاکل شویو معیارونو سره سم پدی معنا چی په انتخاب کیدونکی او انتخاب کوونکو کي د خلافت او امارت او د راي ورکولو ټول شرایط موجود وي په انتخاب کیدونکي یعنی خلیفه او امیر کی د علم او فضیلت د اوصافو سربیره دا هم ضروری ده چی د مسلمه امت (اړونده اتباع) اجتماع او اتفاق تر لاسه شی، او انتخاب کوونکی یعنی ټاکونکی او رایه ورکوونکی باید د رای ورکولو صلاحیت او لیاقت ولری چی د پیغمبر «ص» په احادیثو کی هغو ته دا هل حل او عقد اصطلاح کارول شوی او دا ډول اهلیت په علماوو کی موجود دی پدی اساس د فرد، فرد رایه او نظر اخیستل هم ضروری ندی دا ځکه چی دغه راز اشخاص یعنی علما د نورو د اعتماد او باور وړ دی او د دوی په نمایندګی عمل کوی همدا علما دی چی مسلمه امت هغوی د ژوند په ټولو چارو کی د پیشوایانو او امامانو په توګه قبول کړی په تیره بیا پداسی مهمو مسئلو کی چی دنیوی او اخروی مسولیتونه لری دغو دلایلو په استناد ویلی شو چی په اسلامی حقوقی سیستم کی مسلمه امت ته د ژوند په مصالحو کی پوره واک ورکړل شوی ځکه نو د اسلامی حقوقی سیستم دا بین المللی اصل چی : (ټول افراد د خپل سرنوشت او د رژیم د نوعی په ټاکلو کی البته د معتقداتو او عقایدو په پام کی نیولو سره آزاد دی) او بین المللی ټولنی پر ته له دی چی عملی بڼه ورکړی هغه د سمبول په توګه استعمالوی، تر نورو ډیر ښه په نظر کی نیولی او د عمل په ډګر کی یی څرګند کړی اصلی ټکی ته به راوګرځو هغه دا چی کوم اشخاص چی د لویی جرګی د جوړولو ادعا لری، په بهر کی او په رأس کی یی پخوانی پاچا ظاهر شاه واقع او له هیواد نه لری په روم کی میشته دی له دوو حالتونو څخه خالی ندی یا به دوی خپل افغانی تابعیت ساتلی وی او د افغانستان تبعه به ځان بولی چی پدی صورت کی باید خپل هیواد ته راشی او د خپلو دردیدلو افغانانو سره دی خپل غمونه شریک کړی او نوی ابتکارات دی د افغانستان اسلامی امارت ته چی په پنځه نوی فیصده خاوره کی یی ډاډ من امنیت او قانونی زعامت ټینګ کړی وړاندی کړی تر څو تر غور لاندی ونیول شی او که چیری دوی له موجوده سولی او امنیت څخه انکار کوی او هیواد ته د نه راتګ علت په هیواد کی اضطراری او د جنګ حالت بولی نو مهربانی دی وکړی په اضطراری حالاتو کی لویه جرګه نه راغوښتل کیږی او هر څوک که دا اقدام کوی د اعتبار او مشروعیت وړ ندی ځکه په داسی جنګی حالاتو کی اساسی قانون هم د تعلیق په حال کی وی نو دغه کسان په کوم دلیل ددی اقدام ادعا کوی له بلی خوا که د مسئلی بل اړخ ته نظر وکړو دا په ډاګه ویلی شو هغه څوک چی له دغه اقدام سره مرسته کوی او یا پخپل هیواد کی هغه ته زمینه برابروی په حقیقت کی د ټولو بین المللی منل شویو اصولو پر خلاف زمونږ د هیواد په داخلی او سیاسی چارو کی لاسوهنه کوی دا ځکه چی لویه جرګه د زعامت او رژیم اویا د مشرانو د ټاکلو وسیله ده چی پایله او نتیجه یی د یوه حاکم رژیم او زعامت منحلول او د نوی طرز منځ ته راوړل دی حال دا چی په بین المللی اصولو کی په ډاګه شوی چی هیوادونه یو د بل په داخلی چارو کی د مداخلی هیڅ حق نلری تر هر عنوان لاندی او په هر ځای او هر وخت کی چی وی ددغه اصل په اساس د لاسوهنی او مداخلی دری واړه اقسام (سیاسی لاسوهنه، عقیدتی لاسوهنه او اقتصادی لاسوهنه) په کلکه منعه شوی او باید رعایت شی په هر حال او یا هم دا احتمال شته چی دغو کسانو چی د لویی جرګی ادعا کوی د ایتالیا او یا نورو هیوادونو تابعیت منلی وی چی پدی صورت کی د دوی افغانی تابعیت سلب شوی نو لطفاً دی نور زحمت نه باسی ځکه بهرنی اتباع افغانانو ته د لویی جرګی د جوړولو حق نلری افغانانو پخپله خپل زعامت او امیر ټاکلی او ټاکی یی.

څومره فصاحت ؟

ملا محمد اصغر «عاکف»

که د خدای هغه نعمتونه اوشمېرو چې پر موږ یې پېرزو کړي دي ټولې وګړو نو به یې نه ګټو او که شکر یې ادا کړو نو پوره به یې ادا نه کړو .

د انسان دا نری پسته او لمده ژبه څومره ستر نعمت دی او تفاهم قناعت ورکولو او د نورو ټولنېز چارو په پر مخ بیولو کې څومره اغېزمنه وسیله ده او دا خو ژبه ده چې د وګړو ی ی ستري غونډې ته ګرېږي او سامعینو ورته په انتظار غوږ نیولي وي همدا راز د انسان زړه ته ګوري چې د سترګو په رپ کې خوږ کلام جوړوي او د دماغ له لارې یې ژبې ته را استوي او که دغه انسان وغواړي چې دده دا کلام او مطلب بهر ته صادر او لرې ساحو ته نقل شي نو بیا قلم ته ګوره چې هغه بل څومره ستر نعمت دی چې د انسان فکرونه خپروي او دلیک ستر رسالت په مخ بیایي ، لنډه دا چې خدای «ج» انسان ته په دغو سترو نعمتونو سر بېره نور هم داسې ښایسته نعمتونه ورکړي چې هغه یې دومره لوړې درجې ته رسولی دی مګر دا چې هر مومن مسلمان باید د خدای ددغو نعمتونو شکر وباسي او د هغوی درناوی وکړي او پرې نږدي چې د هغوی په وسیله د ګمراهیو ، بې لارېو او خرافاتو بازار ګرم کړي او په مهملاتو کې یې ونه کاروي بلکې ښه زیار و باسي چې تل یې خپل ذهن ، دماغ ، عقل ، پوهه ژبه او قلم د خدای د وحدانیت په تثبیت ، اسلام ته د رابللو او دو ګړو د ذهنیتونو د تنویر په لاره کې یې مصروف وساتي .

مومن مسلمان چې کله پورتنیو غوره او سترو نعمتونو ته پام کوي او په غور یې ګوري نو شکر دي باسي او داسې دي وایي : ای پاکه خدایه «ج» ستا ثنا وایم او د زړه له کومې دې ستایم چې دا شان غوره نعمتونه دې راکړي دي او بیا مې سوال او زاری تاته دی چې ای پاکه خدایه ته مې له خپله عذابه وساتې په غبشو او چټیاتو مې مه رووږدې کوه د لکنت له عاجزۍ او د تری ژبې له خجالته مې په امن کړې او ای پاکه خدایه «ج» او چا بې ځایه او له کچه پورته مدحې او ستاینې خوی او عادت مه را پکې پیدا کوې او له هغه بد مرغه صفت څخه مې هم وساتې چې د چا په حقونو باندې د تعصب له مخې سترګې پټوم او د قلم نوک تری کړوم .

برنۍ (لسن) یوه عربي کلیمه ده چې د لغت له مخې د تیز (ژبغړاند) معنی ورکوي او کله چې په دعا کې راشي نو بیا به یې داسې لولو : (اعوذبک من کثرة حرص الفصاحته الذی یلهینی عن جائز الکلام و غیر جائزه و یشتغلنی عن تمیز الکفر فی الایمان)

ترجمه : پاکه خدایه «ج» له تا څخه په فصاحت کې له هغومره حرصه چې له روا او ناروا کلام څخه مې بې پروا کوي او د کفر او ایمان له بېلولو مې په بل څه مشغولوي پناه غواړم او له بده مرغه په بهر کې زموږ د ټولنې ځینې شاعران ، ادیبان او لیکوالان عیناً په دغه میدان کې اسونه زغلوي او په خپلو اشعارو کیسو او ادبي پارچو کې داسې نادره کلیمې راوړي چې سړ به دې له سره ورته ووزي پوښتنه دا ده چې دا کوم فصاحت دی ؟ او ایا له دغو مرموزو الفاظو به زموږ عام ولس څه ګټه پورته کړي او زموږ اسلامي دودیز فرهنګ به څه وده ورباندې وکړي او له دې ټولو چې ورتیر شو نو دوی به د خدای «ج» ددغو نعمتونو شکر څرنګه ادا کوي ؟ د مثال په توګه ځینې شاعران په خپلو ادبي پارچو کې داسې مطلب راوړي ، هاغه سپین آس وینې چې آسمانو ته وخوت هاغه دی د لمر او سپوږمۍ ملګری شو ... خدای «ج» هم توکې راپورې کوي ... د خدای «ج» د غزل اوریدونکي نو ښه اوس تا سو فکر ورته وکړئ دې ډول ښکاره الفاظو ته وګورئ او هم زموږ د ټولنې هغه د ټیټې پایې د لیک او لوست څښتنان او عام خلک وګورئ ایا هغوی به لدې څخه کومه مثبته نتیجه واخلي لنډه دا چې زما خو د غو وروڼو ته دا مشوره ده چې باید دوی خپل شعرونه ، نثرونه او ادبي پارچې د یو داسې چوکاټ په دننه کې ولیکي چې یو خو عام فهمه وي او بل خواته د دوی هغه استعاري او تشبیهات زموږ اسلامي معتقداتو او دودیز فرهنګ سره تضاد و نه لري.

خدایه !

شهید عبدالبصیر عبرت

دا دوزخ دی که دنیا ده لویه خدایه!
چې د زړه نه مې کوټلي وینې څاڅي
په لمبو کې د تهمت چې تل کړیږم
چې له ډېره درده اوښکې په ژړا دي
چې د خولې نه مې خندا په منډه درومي

دا وفا ده که جفا ده لویه خدایه
دغه سل دی که وباده لویه خدایه!
دا رقیب دی که آشنا دی لویه خدایه
دغه څنګه ابتلا ده لویه خدایه!
دا د کوم دښمن ښیراده لویه خدایه!

ز «عبرت» چې مې دوستانو ته دښمن شوم
دا بد مرغه سحر د چا ده لویه خدایه!

د شعر او ادب نړۍ

چې کشور د افغانانو معطر کا
د هر بیت مصرع مې زلفې د خوبان کړي

د شهید عبرت په یاد کې

ثاقب

د شهید آشنا د لیدو په تمه د هغه مزار ته ورغلم
غوښتل مې پر مزار یې د لیدو تنده ماته کړم
خو پر مزار یې ډېر اغزي شنه شوي و
زه یې د مزار د قبلې لوري ته ښه نږدې کیناستم
چې ګوندې هغه د حال په ژبه یو څه خواله راسره وکړي
یو څه راسره وګړیږي او یو څه راته ووایي
خو هغه بیا هم هیڅ نه ویلو
هغه
هوکې هغه
د بلې دنیا مسافر
زما او د هغه تر منځ د لحد تور دیوالونه حائل و
ما هم هیڅ نشوای کولای چې د خپل زړه هیلې هغه ته وروااوروم
زړه مې همداسې له هیلو او غریبه ډک پاتې شو
سترګې مې را ډکې شوې په دردمن زړه مې د هغه پاک روح ته دعا وکړه د دعا لوستلو په مهال مې یو نا ځاپه پام شو چې د شهید اشنا د زړه په برابر یو د لا له تک سور ګل ولاړ و زه خوښ شوم چې د شهید اشنا په یاد کې
د هغه په سرو پاڼو د خپلو سترګو
څو څاڅکې اوښکې میلمنې کړم
خو چې کتل مې تر ما بدتر د هغه
زړه هم له تورو وینو ډک او اوښکې یې
په سترګو کې ډنډ ولاړې وې

رباعیات

محمد حنیف بلخي

الهي از نیستان دل من
ز فعر قلزم آب وګل من
چنان طوفان آتش زا بر انګیز
که موج او بسوزد ساحل من
* * *

دلم را آن نوای پراثر کو ؟
همان آه اصل شعله ور کو ؟
ز سینه نعره های هیبت انګیز
که پیچد اندرین کوه و کمر کو ؟
* * *

مکش بیرون تو پا از بستر خود
اګر داري دلي اندر بر خود
چو پروانه بجو با شعله بازي
مزار خود نه خاکستر خود
* * *

ز ساز درد دل آوا برون آر
ندای وادي سینا برون آر
کلمی کن که عالم تیره ګشته
ز جیب خود ید بیضا برون آر
* * *

چرا بام و در دل خانه ما
زاول تا به آخر خانه باشد
چرا این وادي لیلا خدایا!
خموش و فاقد هنګامه باشد

دکابل انځور

داود فرهاد

په خوله مې نه راځي هیڅکله د اوریل خبرې
چې راته یاد شي د زخمي ، زخمي کابل خبرې
زه یم افغان که د وطن په نام مې سر قلم شي
پروا مې نشي مرګ سره تل وی دا جل خبرې
د غلامۍ سبق خو ما چیرې لوستلی نه دی
زمرو ته خوند ورکوي هر وخت د ځنګل خبرې
تورو دودونو سره یو ځای په لمبو کې وسو
وران شو ګلشن په ترانو نکړې بلبل خبرې
نن راته ګونډې یتیمان پراته ویرونه کوي
په ډېرو سترو حوصلو کړم د غزل خبرې
ای داود جانه د کابل انځور همدومره بس دی
او په راتلونکې کې به لیکې د زابل خبرې

د زړه ارمان

ناصرء

زما په زړه دا یو آرمان پاتې دی
راته دیدن مې د جانان پاتې دی
باغ کې تیپې تیپې ګلان پراته دي
نه یې نیم نه یې باغبان پاتې دی
د کلي هر یو کور دی خاوري خاوري
یو د رقیب کور ګي ودان پاتې دی
د وصل یخ شماله ولګیږه
رانه د هجر لمر ته ځان پاتې دی
د وخت روسي لښکره وګوره لږ
د آزادۍ لمر په اسمان پاتې دی

د «ناصری» لاس د وصال په دعا
لا خو دربار ته د سبحان پاتې دی

فکر وابسته

احمد وحید مژده

برق شمشیر کز پرده دریدن دارد
باز بیدار ز خوابیم پس از سیر قرون
فکر وابسته ره دید به دل مي بندد
برده فکر به زندان ابد هست اسیر
هر که ګوید که رخ از بهر عازم به حجاز
مرده مېطلبد این ره پر نشیب و فراز

طلوع فجر دیګر باره دمیدن دارد
دم قرآن اثر روح دمیدن دارد
چشم بازو نګهش حسرت دیدن دارد
برده جسم امیدي به رهیدن دارد
زین میان کیست که بر کعبه خمیدن دارد
که به هر ګام دو صد آبله چیدن دارد

ګر غر سر به سرت هست چه جویي اینجا
آخر این ره به سردار تپیدن دارد

ارتباط یا ...

مهارت څخه استفاده کوي نه د تصدیقونو او شه‌ادتنامو څخه نو له همدې جهته د ژورنالیزم ستر شخصیتونه او پوهان علمي او تجربي کار ته زیاته توجه کوي .

د دوی په نظر لیږدونکي کولای شي چې خبري شبکې ته یا سخت زیان او یا ګټه ورسوي که لیږدونکي ضعیف وي نو خامخا ضعیف مطلب لیکي کله چې ضعیف مطلب اخیستونکي ته رسیږي هغه خامخا نیمګړی انتباه اخلي او پدې توګه د مطلب او موضوع په هکله یې معلومات یا نیمګړي وي یا ان دا چې معلومات یې زیان راوړونکي وي ځکه د همدې تیورۍ پر اساس انسان نه یوازې «اورولو» بلکې «اوریدلو» ته یو شان روحي احتیاج لري دا د انسان فطرت دی چې هم خپله اوري او هم نور اوروي ، دغه توازن او بیلانس هغه وخت روغ وي چې «لیږدونکی» د نشراتي موسسې د تګ لارې سره سم معلومات ټولنې ته وړاندې کړي که ژورنالست په دې کار کې پاتې راځي نه یوازې دا چې باید ځان پر وپولي بلکې باید پدې هم پوه شي چې ددغسې حالت دوام د موسسې لپاره د زغم وړ ندی.

د ارتباط او مفاهمې بله خوا اخیستونکي یا اوریدونکي دي اخیستونکي او اوریدونکي د مطلب په تحلیل او تجزیې باندې پیل کوي که دې پدې تجزیه کې پاتې راغي او یا ورته تشویش پیدا شو نو موضوع د نورو سره شریکوي او بیا ورباندې قضاوت کوي . دغه قضاوت حتمي ندی چې پر ځای او سم قضاوت وي ځکه هغه هم یو ټاکلی استعداد او یو شمېر ځانګړې او ګډ خصوصیات او غوښتنې لري.

دغه قضاوت امکان لري عندي وي او له واقعیتونو څخه لري وي او یا هغو سره نیمګړی تړاو ولري خو په هر صورت هغه ته د اعتبار وړ وي پدې ډول تجربو ښودلې ده چې دغه قضاوت یا د همدې اوریدونکو او یا اخیستونکو سره پاتې کیږي او یا د عکس العمل په توګه ښکاره کیږي ځینې پوهان دې کارته فیډبیک هم وایي په عمومي توګه دغه قضاوت په یو نه یو ډول د خپرونې مسوولو مقاماتو ته رسیږي کله چې دغه قضاوت خپرونې ته ورسید د خپرونې یا د رادیو مسوول مقام ، موضوع د خپلو همکارانو سره مطرح کوي او ورباندې بحث کیږي.

دې بحث کې باید د انصاف ا بیطرفي څخه کار واخیستل شي ... دا چې په دفاع پیل وشي او ... تعرضي شکل ولري بلکې دغ... قضاوت ته باید په درنه سترګ... وکتل شي ، امکان لري قضاوت پور... صحیح نه وي خو بیا هم د خپرونـ... لپاره ګټور دی پدې توګه ورځپاڼي جریدې ، مجلې ... او رادیو ته ګټ... رسیږي نه زیان په سره سینه انتقادونو اوریدل د لا ښه کار لپار... زمینه برابروي.

دین نصیحت دی

حدیث شریف

په حاضری کی دی عدالت وشی!

د امارت رسمی مامورین ټول زمونږ د ځوریدلی ملت خادمان دی، ټیټ رتبه مامورین، رئیسان، معینان ،وزیران، او نور ټول هم د لوی خدای «ج» په وړاندی درونډ مسئولیت لری او لوی امانت یی پراوږو پروت دی او هم د خپل ملت په وړاندی. په دوی کی یو هم څه استثنا او امتیاز نه لری، له وړو نه لویان لا ډیر مسول دی، او ښایی په خپلو ورسپارل شوو دندو کی د ډیر اخلاص او صداقت نه کار واخلی، د حاضری کتاب چی د ټولو مامورینو د ورځنی حضور څارنه کوی، هم د ټولو لپاره جوړ شوی او باید په قانونی ښه کار تری واخیستل شی په دی کی دی دا توپیر نه وی چی لوی چارواکی ته به کورته وروړل کیږی او د میاشتو میاشتو لاسلیکونه به ټول په یوه ورځ کوی او واړه مامورین که کومه ورځ لږ هم ناوخته راورسیږی بیا به غیر حاضر وی، همدغه شان ناوړه چلند په ځینو ادارو کی لیدل شوی او که دردمن او با احساسه مسوولین دی لورته پاملرنه ونه کړی، ښایی دا ناروغی نوره هم خپره شی او په امارتی چارو کی به ډیره ګډوډی رامنځته شی ټول مسوولین تر هر څه مخکی باید دا سوچ وکړی چی د مسلمانانو عامه مسوولیت یی پر غاړه دی او د الله تعالی د سختی پوښتنی سره به مخامخ شی او همدارنګه ښایی په دنیا کی هم یوه ورځ د ملت احتساب ته راکش کیږی شی او په دی هکله ښه سخته پوښتنه ګرویږنه تری وشی نو چارواکی دی په خپل ګریوان کی فکر وکړی او د حاضري د کتاب په کنټرول کی دی هم لوی خدای حاضر او شاهد وګنی او دومره احساس دی په ځان کی پیدا کړی چی که نور نه وی په حاضری کی خودی عدالت وشی.

دا د ارو مشران دی د خپلو افرادو څارنه وکړی

د حضرت پیغمبر «ص» دا حدیث به هر چا اوریدلی وی چی وایی تاسو ټول د خپل خپل رعیت نه مسول یاستی «دا خبره زمونږ یو دینی اساس دی او هیڅوک هم څه نه شی پکی ویلای او هر مسلمان یی باید په سر سترګو ومنی او په دی پوه شی چی زه د خپل لاس لاندی مامورینو له کړو وړو څخه مسوول یم په امارتی سطحه ډیر داسی لیدل شوی چی د کومی اداری مامورین د خلکو سره خورا ناوړه چلند کوی خو بیا په ډیره چالاکی مشران غولوی، او په دی یی قانع کوی چی هیڅکله یی کوم غیر قانونی او له شریعته خلاف کار نه دی کړی او بیا نو طبعاً مشران هم له دوی څخه دفاع کوی خو په حقیقت کی یی ډیر مخالفت کړی وی او هره ورځ په زرګونو خلک په زړو سترګو ورته ګوری چی دا دی پلانی مامور صاحب په ښکاره خپل شخصی اغراض تعقیبوی ، رشوتونه اخلی، ناروا کارونه کوی او لګیا دی د شریعت نه خلک متنفر کوی دا ډول لوبی زیاتره په مالی مواردو کی منځته راځی او سپیناوی یی هم خورا ګران وی مثلاً د لویو لارو په اوږدو کی چی د حق العبور ، ترانسپورتی او ښاروالی ، ته جایی پاټکونه موجودیت لری، خلک ډیر ځورول کیږی همدارنګه په محکمو کی د څه قبالی او نورو اسنادو په جوړولو کی یی پیسو هیڅ کار په مخ نه ځی حال دا چی مشران به په یوه روپی هم خبر نه وی په همدی ډول د امر بالمعروف د مامورینو څخه هم کله نا کله داسی څه پیښیږی چی سړی څه شرعی توجیه نه شی ورته پیدا کولای حال دا چی مشران یی تل په دی خبره ټینګار کوی چی باید په ښه او حکیمانه طریقه خلک دین ته را وبلل شی او دا هم خورا مهمه مسأله ده ځکه چی خدای دی نه کړی لږ بی احتیاطی او غلطه طریقه به د خلکو د لا نفرت سبب وګرځی ، او دا ور پیښی ټولی په دی رو غیږی چی پورتنی حدیث ته ښه پاملرنه وشی او چارواکی هر وخت د خپلو مامورینو کلکه څارنه وکړی.

ملت و امارت ...

ورزند میان امارت اسلامي و مردم هیچ کدام فاصله وجود نداشته ملت و امارت به مشابه پیکر واحدي در راه دفاع از ارزش هاي اسلامي و دفاع از کشور قرار دارند.

اگر میان زعامت و ملت همگونی وجود نداشته باشد پیروزي بدست نمي آید خداوند «ج» را شکر گذاریم که بین ملت مسلمان و غیور افغانستان و امارت اسلامي وحدت کامل وجود دارد.

در اخیر محترم معاون اداري ریاست الوزرا در رابطه به اثرات خشکسالي که تقریباً تمام کشور را متضرر ساخته است گفت امارت اسلامي افغانستان غرض رفع مشکلات مردم ولایت میدان وردك در چار چوب امکانات خود از هیچگونه همکاري و مساعدت دریغ نخواهد ورزید.

در این ملاقات محترم مولوي فضل ربي اخند زاده محترم ملا عزت الله اسد ولسوال جلگه محترم ملا عتیق الله و محترم شاروال ذکر یا خان نیز اشتراك داشتند.

د نشه يي توکو پر خلاف...

المومنین هغه پیغام چی ... سره د مبارزی د نړیوالی ورځی په مناسبت در شوی و ولوست او وروسته د کندهار په ولایت کی د یو ان دی پی تی مسوول له همدی امله د ملګرو ملتو د سازمان د سرمنشی جلالتمآب کوفی عنان پیغام ولوست او بیا د مخدره موادو په خلاف د مبارزی د امارتی عالی کمیسیون د رئیس محترم ملا عبدالحمید اخند زاده پیغام ولوستل شو.

د غونډی په بله برخه کی د ملګرو ملتو د سازمان د یو نیچپا د دفتر امر د مخدره موادو د زیانونو او د هغو د مخنیوی او ددغی غونډی د ارزښت په باره کی وینا وکړه د مراسمو په پای کی د ورزشکارانو لخوا ورزشی لوبی وشوی او د مخدره موادو پر خلاف د مبارزی د کنټرول او سمون د اداری لخوا په لوبغاړو باندی برابر شوی سوغاتونه وویشل شول.

یکتن از قوماندانان ...

امام صاحب ولایت کندز با افراد مسلح خویش دست از همکاري با مخالفین کشیده و با نیرو هاي اردوي اسلامي یکجا گردیده است.

این در حالیست که موجي از نفرت و انزجار شدید نسبت به اعمال سر دسته هاي مخالفین روز به روز در میان قوماندانان افزایش یافته و باعث آن گردیده تا قوماندانان و افراد مسلح آنان دست از برادر کشي کشیده و به خاطر تحقق اهداف امارت اسلامي در کنار نیرو هاي امارت اسلامي قرار گیرند.

از قوماندانان و افراد مسلح شان مسوولین امور نظامي در ولسوالي امام صاحب استقبال بعمل آوردند.

یوه اندازه چرس ...

د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ د هلمند ولایت د امر بالمعروف او نهی عن المنکر ریاست موظفینو په دی وروستیو وختو کی پنځلس کیلو ګرامه چرس او پنځه کیلو ګرامه هیروئین د هغو له عاملینو څخه کشف او تر لاسه کړل او په دی ترڅ کی چی تورن کسان یی د قانون منګولو ته وسپارل دغه مخدره مواد یی د **هلمند ولایت د مرکز لښکرګاه په ښار کی په عام محضر کی وسوزول .**

برای هفت موسسه ...

اجتماعي، موسسه انجمن لیلدن، موسسه انجمن انستیتوت آموزش افغان، موسسه انجمن پروگرام انکشافي براي زنان افغانستان.

در این جلسه همچنان از مسوولین موسسات متذکره تقاضا بعمل آمد تا در راه ابادي و ترقي کشور خدمات ارزنده و مفیدي را بر طبق برنامه هاي امارت اسلامي انجام دهند.

بیش از ۱۵۰ ...

میدهد : در ملاقاتي که محترم ملا الله داد شهید وردور رئیس عمومي احیا و انکشاف **دهات دیروز با نماینده اداره یونسف به عمل آورد روي توسعه پلان کمك هاي بشري آن اداره طي سال روان بحث و تبادل نظر صورت گرفت .**

همچنان در این ملاقات مساعدت هاي مالي و تخنیکي آن اداره جهت جلوگیري و کاهش خطرات خشکسالي در دهات کشور جلب گردیده اداره یونسف وعده سپرد تا در این راستا هر نوع کمك و مساعدت هاي مالي و تخنیکي را با ریاست عمومي احیا و انکشاف دهات انجام دهد.

اداره یونسف بر علاوه آنکه در امر احیاء و احداث پروژه هاي عام المنفعه، احداث سرکها، ساختمان پل ها و بند هاي کوچك آبیاري و تامین آب صحي همکاري نموده به تعداد یکصد حلقه چاه نیمه عمیق را در ولسوالي ده سبز و بیش از پنجاه حلقه چاه نیمه عمیق را در ولایت لوگر به پایه اکمال رسانده است.

. دیروز سیمینار ...

سه روز دایر گردیده است در آن ۲۳ نفر از کارکنان صحي آنولایت اشتراك نموده اند.

این سیمینار دیروز توسط محترم مولوي صدیق الله معاون ریاست عمومي احیاو انکشاف دهات در حالیکه رئیس عامه ولایت لوگر حاضر بود افتتاح گردید

تیم افغاني در ششمین ...

خارجه در زمینه به خبرنگار ما چنین اظهار داشت : این مسابقات که به ابتکار اداره P.T.V در اسلام آباد راه اندازي گردیده بود در نتیجه تیم مهاجر افغاني بنام تیم فتبال سفارت ا.ا.ا یك مقابل سفر بر تیم فتبال P.T.V پاکستان برنده گردید که کپ قهرماني را بدست آورد.

هکذا باید یاد آور شد که درین مسابقات تیم افغاني با تیم هاي فتبال سفارت خانه هاي فرانسه، تاجکستان، انگلستان، عربستان، سودان، و P.T.V پاکستان مسابقات داشته است. که همه به نفع تیم فتبال سفارت ا.ا.ا انجام یافته است.

«یارحسین جاوید»

د وسله والو نښتو ...

سره د مخالفت په غرض یو شمیر پخوانی قوماندانان پدی لټه کی دی چی د اسلامی امارت له ځواکونو سره لاس یو کړی چی د هغوی له جملی یو هم قوماندان عبد محمد دی چی تیره ورځ د اسلامی اردو له مجاهدینو سره یو ځای شو .

مسعود هم د قوماندانانو د روسی ماهرینو د موجودیت په اړه د محلی خلکو او قوماندانانو نفرت درک کړی او هغوی یی داسی ځای کی ساتلی چی د عامو خلکو له نظره پټ وی .

د یوه بل خبر له مخی پرون او ورمه ورځ د همدغو روسی ماهرینو تر نظارت لاندی د بګرام، قره باغ، کلکان او دوسرکه سیمی چی د اسلامی امارت د ځواکونو تر تسلط لاندی دی د مسعود د جګړه مارانو د توپچی تر ډزو لاندی ونیول شوی.

د مالیزیا په پلازمینه ...

مخ دی

ددی څلور ورځنی کنفرانس په پرانیستونکی وینا کی د مالیزیا لومړی وزیر مهاتیر محمد ویلی دی چی غیر اسلامی هیوادونه له نوی او عصری تکنالوژی څخه بشپړه استفاده کوی په داسی حال کی چی اسلامی هیوادونه ورنه ډیر وروسته پاتی دی. په نوی زریزه کی د اسلام او نړیوالتوب تر عنوان لاندی کنفرانس د اسلامی تنظیم د بهرنیو چارو د وزیرانو لومړنی غونډه وه چی په پر مختللو وسایلو سنباله وه. دغه موضوع د مالیزیا لومړی وزیر ته ډیره ورنږدی ده ځکه دد اسلامی ملکونو ته خبرداری ورکړی چی په تکنالوژیکی ډګر کی د دوی وروسته والی او په اقتصادی ډګر کی د دوی غربت کیدای شی ددی سبب شی چی د پرمختللی نړی له لوری وځورولی شی او بیرته یی د ځان مستعمری وګرځوی داکتر مهاتیر محمد ویلی دی کیدای شی ددی په غیر ګون کی ځینی مسلمانان د یوه نا متمند نه اود ړندو سترګو د عملونو د ترسره کولو هڅه وکړی.

موږ به تر هغه ګرو ویلل شو او زمونږ هیوادونه به د ترهه ګرو د بریدونو د مرکز په توګه وغندل شی او ددغی کارونو په ترسره کولو سره د کوچنیو لمسونو پرته زمونږ لاس ته نور هیڅ نه راځی خو ددی په بدل کی چی به کومه سزا دوی موږ ته راکوی هغه به زمونږ د ټولو خلکو لپاره ډیره خطرناکه وی خو د عصری تکنالوژی خبره یوازنی ستونزه نه ده چی په دغه کنفرانس کی به وربانذی خبری کیږی. سمه ده د غونډی برخوال به د یو لړ هغو ستونزو په باب هم خبری وکړی چی د نړی په ځینو برخو کی مسلمانان ورسره مخامخ دی د ساری په توګه د کشمیر مسأله د چیچنیا د کاسووا او ځینی نوری مسئلی .

ملك	شپږ میاشتنی	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

د ګډون بیه له هیواد نه بهر

بند قرغه به یك صحرا سوزان ...

البته ساحه تحت آبیاري این بند ۲۰۰۰ هکتار زمین را احتوا میکند که شامل ساحات قرغه قرغه، آمریت واکسین سازي، ریاست مرستون، اکادمي حارندوي ، پولتخنیك کابل، فارم باغ بالا ، فارم بادام باغ، علفچر هاي وزارت زراعت و ... میباشد؛ هکذا منبع تغذیوي این بند دریاي پغمان بوده که در قسمت قلعه ملك توسط بند آبگردان از طریق کانال دخولي به ذخیره بند قرغه جریان داده میشود.

خبرنگار ما که خود از بند قرغه و ساحات همجوار آن دیدن نموده است وضعیت کنوني این بند را چنین وانمود ساخت :

بند قرغه که از جمله شاداب ترین مناطق طبیعي و تفریحي در شهر کابل بحساب میرفت و صداي مستي آب آن از هر شرشره و جویبار، روان پژمرده انسان را یکبار زنده میگردانید از طي پانزده روز بدینسو این بند از اثر آفت طبیعي سال (خشکسالي) کاملاً خشك گردیده است که انسان از دیدن آن وحشت میکند؛ ضمناً اثرات سوء این بند سطح آب چاه ها و کاریز هاي مسیر این بند را نیز تا ۳ متر کاهش داده است .

محترم آقا شیرین مسؤول این بند در زمینه به خبرنگار ما گفت : در اثر خشك شدن آب بند قرغه بیشتر از پنجصد هزار ماهي اعم از خورد و بزرگ از بین رفته اند.

وي افزود : فعلاً ارتفاع ترسبات در کاسه بند ۸ متر اندازه گیري شده است که یکصدو شصت هزار متر مکعب ساحه رسوبي بند به پاك کاري ضرورت دارد.

دراخیر محترم آقا شیرین چنین اظهار داشت : فعلاً مسؤولین وزارت آب و برق انتقال مواد رسوبي این بند را طور رایگان به عموم هموطنان ما اجازه داده است که روزانه همشهریان کابل توسط وسایط ترانسپورتي خویش قدر ضرورت این مواد را انتقال میدهند.

حالا که در قسمت احیاي این بند جز فضل و رحمت پروردگار چاره بیش نیست، پس چه موقع خوب خواهد بود که مسؤولین محترم این فرصت را غنیمت شمرده در قسمت پاککاري و ترمیمات ساحات تخریب شده بند قرغه بذل مساعي بخرج دهند .

مهربان

سفر روزنامه نگاران ...

روزنامه نگاران عرب در مورد وضع عادي سازي روابط با رژیم صهیونیستي است و بهمین اساس متخلفان این مقررات باید مجازات شوند.

دولت الجزایر نیز دیشب سفر روزنامه نگاران خود به فلسطین اشغالي را محکوم کرد ولي برخي گروه هاي الجزایري معتقد اند که دولت الجزایر درسفر این خبرنگاران به فلسطین اشغالي نقش داشته است.

تهدیدات روسیه و تعزیرات سازمان ...

ملت هاي مسلمان انجام میدهند مورد نکوهش قرار دادند.

در این اجتماع همچنان سخنرانان با اشاره به تامین حقوق همه ملیت ها که در چوکات شریعت اسلامي محفوظ میباشد گفتند هیچ یك قوم در امارت اسلامي بالاي یکدیگر برتري ندارند مگر آنکه شریعت اسلامي به آن امتیاز و برتري داده باشد.

سخنرانان در رابطه به خشکسالي و پیش گیري از آن توسط امارت اسلامي اشاره نموده گفتند امارت اسلامي مشکلات مردم را بصورت کامل تحت نظر داشته که علي الرغم وضع تعزیرات استکبار جهاني با توکل به ذات یگانه در راه حل مشکلات و پرابلم هاي موجود تلاش هاي پیگیري را به راه انداخته است.

سخنرانان همچنان تهدیدات روسیه و تعزیرات سازمان ملل متحد و سایر دول استکباري را شدیداً تقبیح نموده و مردم را به وحدت و یکپارچگي در برابر هرگونه توطیه دشمنان اسلام فرا خوانده و اعمال آنعده را که منافع شان را نسبت به منافع ملي و علیاي کشور مرجع میشمارند و بقایاي شان را در دامن زدن تعصبات ناروا و بر پا ساختن هرج و مرج دایمي میبینند شدیداً نکوهش کرده اعلام داشتند که نباید به همچو عناصر بیشتر موقع داده شود تا به فتنه انگیزي شان ادامه دهند و با عناصر پلید بیگانه را به کشور مقدس خویش که خون شهدا در جهاد مقدس علیه روسها تا اکنون نه خشکیده بکشانند اجتماع با دعائیه رفع مشکلات و خیر و فلاح مردم انجام یافت.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Printed by: Emirate's Printing Press